سرلوخ مرادزی ۲۸ / ۱۲ / ۲۰۱۱

# د یوه لیوني ښرګندونې، که د پنجاب ستراتیژي

د زاهد حامد په نوم د آی ایس آی یو پخواني چارواکي خپله یوه مرکه کې چې تازه خپره شوې او لنډیز او پښتو ژباړه یې تاند بریښناپاڼې او له دې پاڼې څخه په یادونه افغان جرمن انلاین رااخیستې، افغانان سخت قهرولي دي.
نوموړی د مرکې په یوه برخه کې وایي « افغانستان له تاریخي نظره د پاکستان یوه نه بېلیدونکې برخه ده. دی وایي له ۱۹۷۵ څخه، چې لا شوروي اتحاد پر افغانستان یرغل نه و کړی آی ایس آی په افغانستان کې فعال وه. تاند »
نوموړی په مرکه وړاندې ځي او زیاتوي « امریکایان هم د ستراتیژیکو هدفونو لپاره راغلي دي. نو پاکستان باید د افغانستان برخلیک په خپل لاس کې واخلي ځکه چې دا موږ و چې شوروي اتحاد مو مات کړ. موږ امریکایان هم ماتولی شو ځکه چې د امریکایانو اکمالاتي لار پر پاکستان سپره ده. که د چا خوښه وي یا نه وي پاکستان په افغانستان کې بر لاس لري. د پاکستان امنیتي ادارو دې برلاسی ته بې توجهي نه ده کړې. همغه سرچینه »
که څه هم په ظاهر کې دا د یوه ګوښه پنجابي چارواکي بیان ښکاري او د هغه د ویجاړ او لیوني رواني حالت ښرګندونه کوي، خو که په تولّه کې د پاکستان له رامنځته کیدو راهیسې د دې هیواد د واکمنو نیتونو، کړوووړو او ستراتیژۍ ته پام وشي، د زاهد حامد ښرګندونې یوازې د یوه لیوني خبرې نه دي، بلکې د پنجاب تیر شوي او موجوده واکمنان د افغانستان په اړه داسې لیوني خوبونه ویني او اپلتې وایي.
پاکستان، افغانستان ته تل د نفوذ د خپلې ساحې پتوګه کتلي او په همدې چوکاټ یې د افغانستان لپاره خپله بهرنی پالیسي او ستراتیژي سمبال کړې ده. پاکستان چې په کور دننه سره ترلې، پیوسته او ټینګه ملي بوده او تنسته نه لري او هلته میشت قومونه د پنجاب له مرکزه په تیښته دی او بلخوا د کشمیر پر سر له هندوستان سره نه ختمیدونکې شخړه لري، تل افغانستان ته د ستراتیژیک کندو ( Strategic depth ) په سترګه ګوري او په دې موخه په بیلو بیلو وختونو کې راز راز تاکتیکونه مخې ته ړدي، خو ستراتیژي یې نه بدلیږي.
پاکستان کله غوښتي افغانستان په کانفیډراسیون کې رانښکیل کړي، کله یې د پاکستان د پنځم ایالت د جوړولو هڅه کړې او کله یې د مرکزي دولت پر وړاندې د فیډرالیزم څخه د ملاتړ سندره توده ساتلې، خو د پاکستان د خاورې د یوې برخې پتوګه ادعا چې که څه هم د یوه ځانګړی پخوانی چارواکي په خوله بیانیږي، تازه غوښتنه بریښي او د افغانستان په اړه د پنجاب د راتلونکو شومو پلانونو څخه پرده پورته کوي.
خدای وهلی نصیرالله بابر چې یو مهال یې د پاکستان د کورنیو چارو د وزیر دنده درلوده او د طالبانو د پلار په نوم یادیږي وطن نومې جریدې له خبریال سره یوه مرکه کې په افغانستان کې د مرکزي حکومت د جوړېدو په خلاف او پر ځای یې د فیډرالي اداري د تاسیس په اړه د پاکستان نیت داسې ښرګندوي:
« ګوریٔ طالبان په ۱۹۹۶ کې د سپتمبر په میاشت کابل ته ننوتل، نو په اکتوبر کې زموږ او د دوی او شمالی اتحاد تر مینځ په مزار کې خبرې شروع شوی، اول لاړو کابل ته د طالبانو له شورا سره مو خبری وکړی بیا له هغه ځایه قندهار ته لاړو او له ملا عمر سره مو خبره وکړه، هغه بیا ملاغوث راسره کړو بیا ولاړو مزار ته. دوستم سره مو خبری وکړی. دوستم هم زموږ د طرحی ملاتړ وکړ.  یوه مسوده جوړه شوه چې پنځه پراګراف یا بندونه یې درلودل. لومړی بند یې دا و چې د ملل متحد او اسلامی کنفرانس تر اشراف لاندی ټولی پریکړی منو. دوهم دا چې اوربند به وي او بندیان او د مړو جسدونه به یو بل ته ورکول کیږي.  خو پنځمه فقره دا وه چې داسی یوه سیاسی اداره باید جوړه شي چې په هغوی کې به د ټولو ولایتونو نمایندګي د نفوس د تناسب په بنارائي.  پدی مسودی کې د **فیډرال** خبره هم وه چې د دوستم تر څنګ طالبان هم پری راضی وو، هغه وخت زما وظیفه دلته په اسلام آباد کې وه (داخله وزیر) د مسودی ټول بندونه تیار وو، او زه بیرته مزارته روان وم. ماته د امریکا سفیر «سایمن جونیر» ویل چې درسره ګورم، ده ماته په ملاقات کې وویل چې ته « ډاکتر هول» هم له ځان سره بوځه.
ډاکتر هول د جرمني و او د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشی خاص استازی و. ما ورته وویل چې هغه خو زموږ سره ده ځکه چې د قرار داد یا اتفاق نامی په اول بند کې لیکل شوی دي چې د ملل متحد او اسلامی کنفرانس تر اشرف لاندې به یوه طرحه جوړوو، خو زه چې کله مزار ته ورسیدم نو لیدل مې چی ډاکتر هول له مانه مخکې هلته رسیدلی وو. دوستم که څه هم زموږ سره پخوا خبری کړی وی خو ما ورته وویل چې اوس هول راغلی ده نو پکار ده چې د هغه په حضور کې یو ځل بیا هماغه خبرې تکرار کړو. ډاکتر هول اول ډیر اوږد تقریر وکړ خو دا یې هم وویل چې زه پر دی مسودی د ستخط (لاسلیک) اختیار نلرم. بیا د ډوډی وخت شو، هول وویل چې دا خو عجیبه کار شوی ټولی خواوی پری راضی دي، نو زه به له نیویارک سره خبرې وکړم، نو هغه بلی کوټې ته ولاړ او په ستلایټ تلیفون یې هلته په نیویارک کې چا سره خبرې وکړی، بیا یې له ما سره خبرې وکړی، نو ما ګمان کاوه چې کیدای شي اجازت


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

به ورته ملاو شوی وي. پدی ضمن کي ما برګيډر مجيد (په هغه وخت کي د اسلام آباد سفير په تاجکستان کي) ته وويل چي مسوده ټايپ کړي چي امضاګانو ته تياره وي. دوستم راته وويل چي شيرږ کسان به زه درته معرفی کړم، شيرږ کسان به د طالبانو شي، دوستم ويل چي ددی توافق غونډه به په کابل کي اعلانيږي او زه په خپله هم کابل ته درځم، پدی ټولو توافق وشو، ډاکټرهول راغي نو قلم يي راواخيست او دا ينځم يي رد کړ، په دی کار دوستم خفه شو، په هغه ورځ خو موږ بيرته پاکستان ته راغلو خو دوستم بيا پيغامونه شروع کړل او زاری يي کولی چي يوځل دلته راشئ.
بيا دلته ايوان صدر کي ميټنګ وشو، په هغي کي صدرفاروق لغاري، بينظيربوټو، چيف آف آرمي (د پوځ لوی درستيز) سټاف، د ISI ډايرکټر جنرال (عمومی رئيس)، وزير خارجه او زه هم... وم نو دوی ماته وويل چي بله ورځ ( د نومبر په پنځمه) مزار ته لاړشه او دستخطونه وکړه... ليکن د نومبر په ځلورم زموږ حکومت رنګ شو. اوهغه مسوده او توافقات همداسي نيمګړي پاتي شول. د افغانستان تراژيدي دا ده کله چي د غوځو او سمو فيصلو وخت راغلی پاکستان کي حکومت بدل شوی. د وطن پيغام بريښناپانه »
په پورته چلوټه کي وينو بابر چي نيکونه يي له افغانستانه هلته ته تللي، طالبان چي پښتانه او د پښتنو د يوازيني ستازيتوب دعوه لري او دوستم چي افغان دي د افغانستان په ټوک ټوک کيدو او پاشلتيا کي د پنجاب په ګټه ټول سره شريکيږي، خو له افغانستانه ډېر لری پروت جرمنی ددي چلوټي د پليتابه مخه نيسي.
همدارنګه پاکستان يو ځل د ګل بدين راکټ يار سره هم په کانفيډراسيون کي د افغانستان د رانسکليتيا هڅه کړې وه.
خو که د پاکستان لنډ ګنډ تاريخ او د دې هيواد ملي ترښت ته چي مخکي هم ورته اشاره وشوه وکتل شي، دا هيواد خپله د ټوټه کيدو او پاشلتيا د ګړنګ په موږګه ولاړ دی. پاکستان چي نيمايي د افغنستان او پاتي نور د هندوستان په خاوره په يوې استعماري چلوټه کي رامنځته شوی او خپل تاريخ نه لري حتی ملي سرود يي هم **زموږ په دري ژبه** جوړ شوی دی ، وګوری :
پاک سرزمين شادباد
کشور حسين شادباد
تو نشان عزم عاليشان
ارض پاکستان .......مرکز يقين شادباد
پاک سرزمين کا نظم
قوت اخوت عوام
قوم، ملک، سلطنت
پاينده تابنده باد
شاد باد منزل مراد
پرچم ستاره وهلال
رهبرترقي وکمال
ترجمان ماضي وحال جان استقبال
په پورته سرود کي که د « کا » ويوکی لری کړو، پاتي سرود يي ټول زموږ په دري ژبه دی. »
بلخوا دا چي پاکستان خپل تاريخ نه لري، غواړی د افغانانو تاريخ هم غلا کړي يخپلو توغنديو يي د افغاني ميړنيو لکه ابدالي، غزنوي او غوري نومونه ايښي دی، لاندي ليست ته وګوری:

**دپاکستان د د ستراتيژيکو مزايلونو Missiles ليست**

| ګڼه | جوړښت Designation | بل نوم Other Name | واټن Range | وزن Payload | حالت Status | موجوديت Inventory |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | هاتف I1IA | هاتف I1IA | km100/80 | kg500 | ځای پر ځای شوی | +1000 |
| 2 | ابدالي | هاتف II | km180 | kg500 | ځای پر ځای شوی | 800 |
| 3 | غزنوي | هاتفIII | km290 | kg500 | ځای پر ځای شوی | +1100 |
| 4 | شاهينI | هاتفIV | km750 | kg750 | ځای پر ځای شوی | 705 – 1150 |
| 5 | غوريI | هاتفV | km1500 | kg1000-700 | ځای پر ځای شوی | +1100 |
| 6 | غوريII | هاتف VA | km2000 | kg1200 | عملياتي او تر | +۱۱۰۰ |


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په ځير و لولئ

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | تولید لاندې | |
| ۷ | شاهینII | هاتفVII | km2500 | kg+1000 | ځای پر ځای شوی | +2100 |
| 8 | بابر | هاتف VII | km700 | kg500 | ځای پر ځای شوی | 12000 |
| 9 | غوري III | هاتف VIII | km4000 | kg2500 | عملیاتي او تر تولید لاندې | |
| 10 | M-11 | | km300 | kg500 | په خدمت کې | ۱۰۰۰ |
| ۱۱ | شاهین III | | km+4,500 | kg+1000 | عملیاتي او تر تولید لاندې | |
| 12 | ټیپو سلطان | | km8000 | kg1500 | تر پرمختګ لاندې | |

څنګه چې د افغانستان په اړه د پاکستان د واکمنانو په زړه دننه پټې او ښکاره چلوټې یو په بل پسې بربنډیږي د افغانانو لپاره د دې جعلي هیواد په اړه د یوې دایمی او څرګندې ستراتیژۍ او بهرني سیاست سمبالښت د ورځې د مبرمه غوښتنې پټوګه رامنځته کیږي.

د لیکنې د لنډیز په موخه، یو ځل بیا په دې خبره ټینګار کیږي چې پاکستان د افغانستان ستې او بنیاد پسې را اخیستې او افغانانو ته پکار دي چې زموږ د هیواد په اړه د پاکستان نیتونه او تګلارې جدي وګڼي او یوازې د افغان دولت غبرګون ته لاس تر زنې کښیني. د هیواد د ملي ګټو، د افغان خاورې د بشپړتیا (تر اباسین پورې)، ملي تاریخ او هویت څخه په ننګه د ملي یووالي پر ټغر راټول شي او د ملي یووالي په سوک پنجابي دوښمن ته خوله ماتې ځواب ورکړي.

د افغانانو د ویښتیا او یوټیا په هیله!

پای

**اخځونه :**


ـــ احمد سعیدي، پاکستان محور شرارت،۱۳۸۶،مطبعه آزادي،۲۴۶مخ.

ـــ بیلا بیلې بریښنا پاڼې





افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ